د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
د مطبوعاتو رياست

# د اقتصادي معاونيت فعاليتونه او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۴ لمريز کال

درېيم راپور



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Office of Deputy PM for Economic Affairs

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د هېوادوالو نظرونه

**(د ۱۴۰۴ ل کال درېیم تحلیلي راپور)**


**ناشر:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل ـ افغانستان
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


کابل ښار ته له پنجشیر سیند څخه د اوبو د انتقال په اړه له یو خصوصي شرکت سره ناسته ترسره شوه...... ۱

د افغانستان د پراختیایي تګلارې تر منظورۍ وروسته د هغې تطبیقي چارې پیل شوې ............... ۵

د غوري سیمنټو د درېیمې فابریکې د جوړېدو چارې پیل شوې..................................... ۱۰

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګونو لویې لارې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه ............... ۱۵

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې دویم فاز پرانیست ........ ۱۹

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له اجرائیوي رئیس سره وکتل ........... ۲۳

د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه .................................. ۲۷

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: ټول صنعتکاران او سوداګر دي... ....................................... ۳۱

ملي تدارکاتو کمیسیون د شاوخوا ۵. ۱ میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۱ پروژې منظورې کړې .......... ۳۶

کابل او تهران د درملو او طبي وسایلو د تولید په برخه کې همکارۍ پراخوي ............................. ۴۰

# کابل ښار ته له پنجشېر سیند څخه د اوبو د انتقال په اړه له یو خصوصي شرکت سره ناسته ترسره شوه



## سریزه

اقلیمي بدلون او وچکالیو د هېواد د نورو ولایتونو ترڅنګ پلازمېنه کابل هم د اوبو د کمښت له ستونزې سره مخ کړې دی. دغه راز، د عامو هېوادوالو له لوري د اوبو ناسم استعمال هم د دې لامل شوی چې تر ځمکې لاندې اوبو سطحه ټیټه شي او د عام استعمال او کرنې له پاره کافي اوبه ونه لرو. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د پلازمېنې د اوبو ستونزه حل کړي. د ځمکې لاندې اوبو د تقویې او هېوادوالو ته د څښاک پاکو اوبو له پاره یې په شکر دره کې د شاه و عروس بند پرانیست او پلان کې لري د پنجشېر سیند اوبه کابل ښار ته انتقال کړي. په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د اسد میاشتې په ۳۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د کېتوازي ګروپ خصوصي شرکت له مسوولینو سره وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د کابل ښار د اوبو د کمښت ستونزې ته متوجې دی او په جدي او اساسي ډول یې د حل لپاره هڅې کوي. د کېتوازي ګروپ شرکت مسوولینو وویل، چمتو دي چې د ټولو معیارونو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره له پنجشیر سیند څخه کابل ښار ته د اوبو د انتقال پروژه کې پانګونه وکړي. هغوی زیاته کړه، د یادې پروژې په اړه به د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د معلوماتو او اسنادو له ترلاسه کولو وروسته خپل تخنیکي ټیمونه ساحې ته ولېږي او د دوه اوونیو په جریان کې به د یادې پروژې سروې او ډیزاین بشپړ کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوبو او انرژۍ وزارت مسوولینو ته دنده وسپارله، څو د دې پروژې په اړه موجود

معلومات او اسناد د کټوازي ګروپ شرکت مسوولینو ته په واک کې ورکړي او د پروژې د تخنیکي، مالي او تطبیقي اړخونو په اړه ورسره بحثونه وکړي. محترم ملا صاحب د یاد شرکت مسوولینو ته له خپل لوري د همکارۍ ډاډ ورکړ او د اوبو او انرژۍ وزارت او یاد شرکت له استازو یې وغوښتل چې په دوو اوونیو کې خپل راپور له اقتصادي معاونیت سره شریک کړي.


## کابل ښار ته له پنجشېر څخه د اوبو د انتقال په اړه له یو خصوصي شرکت سره د ناستې موخه:

د کابل ښار د اوبو د ستونزو حل

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (کابل ښار ته له پنجشېر څخه د اوبو د انتقال په اړه له یو خصوصي شرکت سره د ناستې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۷۹ مثبت نظرونه، ۹۳ منفي نظرونه او ۲۷ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۰٪ مثبت نظرونه، ۲۳٪ منفي نظرونه او ۷٪ سالم وړاندیزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- په دې حساسو شرایطو کې د خصوصي شرکتونو له لوري د اوبو د کمښت ستونزه کې پانګونه یو مؤثر کار دی.
- خومره ښه کار به وشي. کابل کې بېخي اوبه نه شته. د یو بیلر اوبو قیمت ۱۲۰ افغانۍ دی. غریب د کور کرایه ورکړي، که اوبه واخلي. ځینو سیمو کې دا قیمت حتی ۲۴۰ افغانۍ دی.
- په اوس وخت کې په افغانستان کې امنیت ډېر ښه دی. بودیجه ښه ډېره ده. جنګ نه شته چې مصارف وشي. باید سترې پروژې بشپړې شي او له وخت نه ګټه واخیستل شي.
- ډېر ښه اقدام دی. په مشرانو غږ کوم چې ولس او وطن ته کار وکړي.
- دې کار ته باید لومړیتوب ورکړل شي. ځکه حیاتي مسله ده، که نه نو ناورین به رامنځته شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د خصوصي شرکتونو له لوري په هېواد کې پانګونه مؤثره بللې ده. بلکل! د حکومت ترڅنګ خصوصي سکټور هم د هېواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي. خصوصي سکټور کولی شي چې په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې له لارې کاري فرصتونه ایجاد کړي. د افغانستان اسلامي امارت خصوصي پانګوالو او شرکتونو ته د پانګونې ښه فضا برابره کړې ده او ډېر امتیازات یې ورکړي دي. اسلامي امارت په دې باور دی چې خصوصي سکټور باید د حکومت ترڅنګ د هېواد په پراختیایي چارو کې دخیل شي، ځکه په هېڅ ځای کې حکومتونه ټول کارونه په یوازې ځان نه شي کولی او خصوصي سکټور د همدې له پاره دی چې د حکومت ترڅنګ ځینې کارونه پرمخ یوسي او مسوولیتونه ومني. په وروستیو کې د اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ په برکت په هېواد کې د خصوصي سکټور د پانګونې کچه زیاته شوې ده او موږ او تاسو وینو چې ګڼ کورني او بهرني پانګوال او شرکتونه په مختلفو لویو پروژو کې په پانګونې بوخت دي. اسلامي امارت له ټولو پانګوالو او شرکتونو غوښتې چې هېواد کې پانګونه وکړي او اسلامي امارت به یې ملاتړ وکړي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې د هېواد د شته امنیت یادونه کړې، د جګړې نه شتون یې مثبت بللی او د لویو پروژو د بشپړېدو غوښتنه یې کړې ده. واقعیت دا دی چې په هېواد کې د اشغال موجودیت د لویو پروژو پر وړاندې خنډ و او کله چې اشغال پای ته ورسېد او په ټول هېواد کې سرتاسري امنیت راغی، نو په ټولو لویو او ملي پروژو کې د پانګونې او د هغو د عملي کېدو زمینه برابره شوه. اوس موږ وینو چې هېواد مو د سیمه ییز اتصال د پروژو د پلي کېدو په لور چټک ګامونه اخلي او د ټاپي په څېر د لویو پروژو کارونه په چټکۍ روان دي. دا ټول په هېواد کې د جګړې د نه شتون او اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاستونو له امله دي. د اشغال په دوران کې به د هېواد د داخلي عوایدو او د بهرنیو مرستو ډېره برخه په جګړه مصرفېده، خو اوس چې اشغال ختم او په ټول هېواد د امن څادر خپور دی، نو د ملي بودیجې ډېره برخه د هېواد په بیا رغونه او ابادۍ مصرفېږي. په هغو هېوادونو کې چې جګړه نه شته، نو اباد دي او د الله تعالی په فضل او د اسلامي امارت د رهبرۍ په څېر به افغانستان هم د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي.

☜ **دریم:** یو شمېر هېوادوالو کابل ته د پنجشېر سیند د اوبو انتقال یوه حیاتي مسله بللې او له اسلامي امارته یې غوښتي چې دې کار ته لومړیتوب ورکړي. ریښتیا خبره دا ده چې په کابل کې د اوبو بحران شته دی، چې د حل له پاره یې په تېر کې کافي هڅې نه دي شوې او همدا لامل دی چې اسلامي امارت غواړي د کابل د اوبو بحران حل کړي. په همدې موخه یې هڅې پیل کړي او له یو خصوصي شرکت سره یې په دې اړه مجلس کړی دی، چې په نږدې وخت کې به په دې اړه ښه زېری ولرو.

## پایله

پلازمېنه کابل کې تر ځمکې لاندې اوبو د کموالي ستونزه شته او د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې له مختلفو لارو په استفادې دغه ستونزه حل کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په دې اړه له یو خصوصي شرکت سره کابل ته د پنجشیر سیند اوبو د انتقال په اړه ناسته کړې او په دې موضوع یې ورسره خبرې کړې دي.

هېوادوالو هم دغه ګام مثبت بللی او تمه یې څرګنده کړې چې د دې پروژې په پلي کېدو سره به د کابل د اوبو ستونزه حل شي او هېوادوالو ته به پاکې اوبه په اسانه او ارزانه بیه ورسېږي.

# د افغانستان د پراختيايي تګلارې تر منظورۍ وروسته د هغې تطبيقي چارې پيل شوې



## سريزه

د افغانستان پراختيايي تګلاره، چې د اسلامي امارت د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی له لوري منظوره شوې، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په جوړه شوې غونډه کې چې د کابينې محترمو غړو هم پکې ګډون درلود، د ۱۴۰۴ کال د سنبلې مياشتې په څلورمه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې يې د تطبيقي پړاو چارې پيل شوې.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شويو مراسمو ته وويل، د افغانستان اسلامي امارت پراختيايي تګلاره شرعي احکامو، علمي معيارونو او د هېواد عيني شرايطو ته په پام له خپلو داخلي ظرفيتونو څخه په ګټې اخيستنې تدوين شوې ده، چې د هېواد د ملي پراختيا لپاره اساسي موخې او لومړيتوبونه په ګوته کوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، د تېرو څلورو کلونو په ترڅ کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو وزارتونو او ادارو په خپل وار د نظام د بنسټ د پياوړتيا او د هېواد د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په برخه کې خپله ونډه ادا کړې ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، د هېواد محدودې سرچينې او ورځ تر بلې زياتېدونکې اړتياوې ايجابوي، چې ټول

امارتي وزارتونه او اداري اړوند پالیسۍ، پروګرامونه او پروژې د دې سند په رڼا کې ترتیب او عملي کړي، څو د ملي منابعو په تخصیص او مصرف کې د لا زیاتې همغږۍ او لومړیتوب ورکولو لامل وګرځي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ټولو امارتي وزارتونو او ادارو څخه وغوښتل چې د یادې تګلارې د تطبیق لپاره د برنامو جوړولو، د پروژو اولویت بندۍ، قیمت ټاکنه او مؤثره څارنه د ټولو وزارتونو او امارتي بنسټونو ګډ کار او مسوولیت دی، چې دوامدارې خپلمنځي همکارۍ ته اړتیا لري، چې پوره دقت او پاملرنه باید ورته وشي.

د غونډې په پای کې د اسلامي امارت ویاند ذبیح‌الله مجاهد د افغانستان پراختیایي تګلارې په اړه د رسنیو پوښتنو ته هم ځوابونه وویل.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان پراختیایي تګلاره هغه جامع، واحد او اوږدمهاله سند دی چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د هېواد د بنسټیزو موخو ترلاسه کولو په پار چمتو شوی او ټولې امارتي منابع په یو واحد مسیر رهبري کوي. د دغه مهم سند موخې د اسلامي احکامو پر بنسټ ښه حکومتولي، د سراسري امنیت ټینګښت او د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه، کارموندنه او اقتصادي وده دي.

د دې سند په تطبیق سره به روڼتیا او حساب ورکول او پر نظام به د خلکو او نړیوالې ټولنې باور زیات شي؛ ښوونې او روزنې، روغتیا او نورو بنسټیزو خدمتونو ته به ښه لاسرسی پیدا شي.


## د افغانستان د پراختیایي تګلارې د تطبیقي چارو د پېل موخه:

د اسلامي احکامو پر بنسټ ښه حکومتولي، د سراسري امنیت ټینګښت او د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه، کارموندنه او اقتصادي وده

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې (د افغانستان د پراختیایي تګلارې تر منظورۍ وروسته د هغې تطبیقي چارې پیل) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۰۵ مثبت نظرونه، ۴۷۰ منفي نظرونه او ۲۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۲۹٪ مثبت نظرونه، ٦٧٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړاندیزونه دي.

## امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- له روښانه، هر اړخیزې او لومړیتوبونو ټاکلو سره د هېواد د پرمختګ هیلې را ژوندۍ کېدای شي.
- ښه ده. هر هغه څوک چې د هېواد د چارو مسوولیت لري، باید یوه لازمه تګلاره ولري او ولس ته قناعت ورکړي.
- ماشاءالله! پرمختګ ولرئ. ملت مو ترخنګ په کلکه ولاړ دی. باید له ستونزمن حالت څخه ځان وباسو.
- کار اهل کار ته وسپارئ. دا به ستاسو له پاره لویه بریا وي.
- دا د هېواد له پاره یو ښه زیرى دی. هره ښښته چې د هېواد د رغونې له پاره کېښودل شي، د ټولو افغانانو د خوښۍ لامل ګرځي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی**: ځينو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ويلي چې لومړيتوبونه ټاکل مهم دي او هر څوک چې د هېواد د چارو مسوولیت لري، باید يوه لازمه تګلاره ولري. حکومتونه په تګلارو چلېږي. که چېرته کوم حکومت تګلاره ونه لري، نو د هغوی چارې به په سم ډول پرمخ لاړې نه شي. په تګلارو کې د حکومتونو مهم اهداف او فعاليتونه څرګند شوي وي او بيا د هماغو د ترلاسه کولو له پاره پلانونه جوړوي. د افغانستان په څېر په اقتصادي لحاظ وروسته پاتې حکومتونو له پاره، چې سرچينې يې ډېرې او اقتصادي پرمختګ يې ورو دی، د تګلارې لرل ډېر اړين دي. ځکه له کمو سرچينو څخه منظمه او سالمه استفاده او د سرچينو مديريت په دغسې هېوادونو کې ډېر مهم دی. په همدې موخه د افغانستان پراختیايي تګلاره جوړه شوې چې له نېکه مرغه د اسلامي امارت د عالیقدر اميرالمؤمنين حفظه الله له لوري منظور شوې او د تطبيق او څار چارې يې روانې دي. په دې کې د لومړيتوب وړ برنامې څرګندې شوې دي چې د پلي کېدو پر بنسټ به يې افغانستان اقتصادي ټيکاو ترلاسه کړي، پانګونه به زياته او کاري فرصتونه به ايجاد شي.

☜ **دويم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د افغانستان پراختیايي تګلارې د تطبيقي چارو پېل ښه پرمختګ بللی او زياته کړې يې ده چې ملت د افغانستان اسلامي امارت تر څنګ کلک ولاړ دی او بايد له ستونزمن حالت څخه ووځو. په نړۍ کې چې کوم حکومتونه د خپل ولس د هيلو د پوره کولو له پاره ګامونه اخلي او له ستونزو څخه يې د ايستلو برنامې جوړوي، نو ملت يې ټينګ ملاتړ کوي او هغه حکومتونه کامياب هم وي، ځکه د ملت د ملاتړ له امله حکومتونه قوي پرېکړې کوي او ملت او حکومت له سختو حالاتو سره د مبارزې په پايله کې په سختو حالاتو بريالي کېږي او بيا هم ملت او هم حکومت د ارام ساه اخلي او پرمختګونه تعقيبوي. د افغانستان ولس هم چې له سختو حالاتو تېر شوي او د بهرنيو تحريمونو له امله له ستونزو سره لاس او ګرېوان دی، د خدای تعالی په مرسته او د اسلامي امارت د هڅو په پايله کې به له دې سختو څخه وځي او د افغانستان پراختیايي تګلارې په پلي کېدو سره به له اقتصادي او نورو ستونزو څخه خلاص شي. موږ وينو چې ملت په دې سخت حالت کې له خپل حکومت سره ولاړ دی او په ګډه ستونزې زغمي، خو ژر به دغه ستونزې ختمې او اقتصادي ښېرازۍ ته به ورسېږو. د اقتصادي ښېرازۍ په لور سفر روان دی او اسلامي امارت به د خپل ملت په ملاتړ دغه سفر خپل هدف ته رسوي.

☜ **درېيم:** ځينو هېوادوالو د افغانستان پراختیايي تګلارې د تطبيقي چارو پېل يو ښه زېری بللی دی او ويلي يې دي چې د هېواد د رغونې له پاره د هرې خنډنې کېښودل د افغانانو د خوښۍ لامل ګرځي. واقعيت دا دی چې په هېواد کې د اشغال له امله هېوادوالو ته سخت زيانونه واوښتل. اقتصاد مو خپل اساس نه درلود، بوديجه مو خپلې نه وه او نورې بلا ستونزې موجودې وې، خو د افغانستان اسلامي امارت له راتګ سره هڅه وشوه چې د هېواد د رغونې له پاره داسې خښتې (بنسټونه) کېښودل شي چې واقعي وي. موږ او تاسو ګورو چې اوس د حکومت ټول کارونه، له معاشاتو نيولې

تر پراختیایي پروژو تر تمویل پورې، هر څه له کورنۍ بودیجې تمویلیږي. دا چې ولس په دغه ډول کارونو خوښي ښیي، نو په ټولنه کې د اسلامي امارت له کارونو د خلکو د رضایت کچه معلومیږي او ثابتوي چې ولس د اسلامي امارت له کړنو راضي دی او ولس د هېواد د ستونزو اساسي حل او داسې بنسټیونه غواړي چې نړېدل یې اسانه نه وي او راتلونکي نسلونه یې یاد وساتي چې اسلامي امارت د هېواد ستونزې په بنیادي ډول حل کړې دي. په دې اساس اسلامي امارت غواړي چې د هېواد اقتصادي او نورې ټولې ستونزې په اساسي ډول حل شي او د داسې پراختیایي تګلارو په جوړولو او پلي کولو سره حکومتي چارې پر مخ یوسي چې د اقتصادي ستونزو جرړې په کې له بېخه ایستل شوې وي او هم خدای تعالی او هم ولس راضي وي.

**پایله**

د افغانستان اسلامي امارت له لوري د افغانستان پراختیایي تګلارې جوړېدل یو ډېر مهم ګام و. دغه تګلاره د افغانستان د پرمختګ او د هېواد له سرچینو څخه د سالمې او منظمې استفادې له پاره ډېره مهمه وه.

اکثریت هېوادوالو د یادې تګلارې د تطبیقي پړاو پېل ارزښتناک بللی او دا یې یو مهم پرمختګ یاد کړی دی.

تمه ده چې د افغانستان د پراختیایي تګلارې پر بنسټ به افغانستان په کانونو، روغتیا، کرنې، ښوونې او نورو ټولو سکټورونو کې لا ډېر پرمختګ وکړي او په افغانستان کې به اقتصادي وده چټکه شي.

# د غوري سیمنټو د درېیمې فابریکې د جوړېدو چارې پیل شوې



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې افغانستان په مختلفو سکټورونو کې ځان بسیاینې ته ورسوي او د دې له پاره یې د مختلفو سکټورونو د پراختیا او پانګونې جذب له پاره هڅې کړې دي، چې له نېکه مرغه په ګڼو سکټورونو کې بهرنۍ او کورنۍ پانګونه جذب شوې هم ده.

افغانستان د سیمنټو ډېر معدنونه لري. اسلامي امارت غواړي چې د سیمنټو برخه کې د ځان بسیاینې، وارداتو کمېدا او کاري فرصتونو د ایجاد په موخه د هېواد د سیمنټو معدني زېرمې استخراج او تولید یې بازار ته وړاندې کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په همدې موخه د غوري سیمنټو د درېیمې فابریکې د جوړېدو چارو د پیل له پاره بغلان ته سفر کړی و.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د وږي په نهمه نېټه په بغلان ولایت کې د غوري سیمنټو د درېیمې فابریکې د جوړېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په هېواد کې دننه د سیمنټو تولید او په دې برخه کې خودکفایي ته د رسېدو لپاره د دې فابریکې پرانیستل مهم وبلل او ویې ویل،

صنعتي کېدل د هر هېواد د لويو اهدافو په سر کې قرار لري. هغه هېوادونه چې په مختلفو برخو کې توليدي فابريکې لري، نه يوازې په کور دننه د هېوادوالو اړتياوې پوره کوي، بلکې د اضافي توليد له امله صادرات هم کوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، توليدي فابريکې د هېواد د ملي توليد او ملي عوايدو په لوړېدو او د ملي اقتصاد په پياوړتيا کې اساسي رول لري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د توليد په پيل سره به د هېواد د سمينټو اړتيا لويه برخه په کور دننه پوره شي، صنعت به پراختيا پيدا کړي، له هېواد څخه به د اسعارو وتلو مخنيوی وشي، د ودانيزو چارو په تسهيل او تسريع او د سيمنټو په نرخ کې به ثبات رامنځته شي، ډېرو هېوادوالو ته به کار پيدا او په لويه کې به د صنعتي افغانستان پر لور مهم گام واخيستل شي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، افغانستان تر ډېره پر بهرنيو وارداتو متکي دی او د ملي بوديجې زيات رقم هم د وارداتو په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې له بهره واردېدونکي توکي له يوې خوا قيمته تماميږي او له بلې خوا پايداره او ډاډمنه سرچينه نه گڼل کېږي. د هغه په خبره، د هېواد په داخل کې د توليد دا ډول فابريکې کولی شي، چې په تدريجي ډول پر بهرنيو وارداتو د هېواد اتکا راکمه او د يو توليدي افغانستان پر لور اساسي گامونه واخيستل شي.

په پای کې د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې له مسوولينو وغوښتل څو د يادې فابريکې چارې له منل شوو معيارونو سره سمې په پوره صداقت پرمخ بوځي او له هر ډول کاري او تخنيکي غفلت څخه ډډه وکړي.

د يادونې وړ ده چې د غوري سيمنټو پر درېيمې فابريکې ۸۶.۸ ميليون ډالر لگښت راځي چې د جوړېدو چارې به يې په ۱۸ مياشتو کې د ملي پراختيا شرکت له لوري بشپړې شي. د غوري سيمنټو فابريکه به د درېيمې فابريکې د چارو په بشپړېدو سره په ۲۴ ساعتونو کې د ۵۰۰۰ ټنه سيمنټو د توليد وړتيا پيدا کړي.


## د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د جوړېدو چارو د پيل موخه:

سيمنټو برخه کې ځان بسياينې ته رسېدل او د هېواد صنعتي کېدل

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې (د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د جوړېدو چارې پيل شوې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۳۰۱ مثبت نظرونه، ۸۵ منفي نظرونه او ۲۴ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۷۳٪ مثبت نظرونه، ۲۱٪ منفي نظرونه او ٦٪ سالم وړانديزونه دي.

## امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته مورږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- اساسي کارونه د کار موندنې او د بېچاره خلکو د استخدام لامل کېږي. خدای تعالی دې وکړي چې زموږ خلک له کډوالۍ څخه خلاص شي.
- د سيمنټو برخه کې د ځان بسياينې په لور مهم ګام دی.
- د برېښنا راتلو سره به د هېواد ټول اقتصادي مشکلات حل شي.
- کله چې يو حکومت په خپل پايښت باور ولري، نو د برېښنا بندونو، قوش تېپې کانال، سړکونو، فابريکو او نورو لويو پروژ باندې کار کوي.
- د داسې ورځې په هيله چې له ځان بسياينې سره صادرات هم ولرو.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** ځينو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې په هېواد کې اساسي کارونه د کار موندنې لامل بللي او د سيمنټو د ځان بسياينې له پاره يې د غوري سيمنټو فابريکې فعاليت مهم ګام بللی دی. ريښتيا خبره دا ده چې د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د کاري فرصتونو د ايجاد په موخه يو شمېر اساسي ګامونه اخيستي دي، چې په هغو کې د توليدي فابريکو جوړول يو اساسي او مهم ګام دی. دغه ډول کړنې په هېواد کې په اوږد مهاله ډول د بېکارۍ کچه راکموي او ګڼ شمېر هېوادوال بهرنيو هېوادونو ته له تګ څخه راګرځوي. نورو هېوادونو ته د خلکو د تګ يو لامل د بېکارۍ ستونزه ده. اسلامي امارت درک کړې چې د بېکارۍ ګراف د ټيټوالي له پاره بايد اساسي ګامونه پورته شي. همدا لامل دی چې د هېواد په مختلفو ولايتونو کې يو شمېر فابريکې فعالې شوې دي، کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب شوې او ګڼ شمېر هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شوې ده. د سيمنټو په برخه کې هم ډېرې لاسته راوړنې شته. په لوګر، کندهار، بغلان او ځينو نورو ولايتونو کې د سيمنټو په صنعت کې پانګونه شوې او د خدای تعالی په فضل او د اسلامي امارت په هڅو به افغانستان دغه برخه کې ځان بسياينې ته ورسېږي.

☜ **دويم:** ګڼ شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د برېښنا ارزښت ته اشاره کړې او هغه يې د هېواد د اقتصادي ستونزو د حل له پاره مهمه بللې. هو! په نننۍ نړۍ کې برېښنا د يو هېواد د اقتصادي او صنعتي پرمختګ له پاره ډېره مهمه ده. هغه هېوادونه چې د خپلو صنعتي فعاليتونو له پاره کافي برېښنا نه لري، نو اقتصادي وده يې چټکه نه وي او د نړۍ له کاروانه وروسته پاتې وي. له بده مرغه چې افغانستان هم د هغو هېوادونو په لست کې شامل دی چې کافي برېښنا نه لري او د اوسنۍ برېښنا يو څه برخه يې وارداتي هم ده، چې وخت ناوخت د ځينو ستونزو له امله پرې کېږي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د برېښنا ستونزې د حل له پاره اساسي حل ومومي او د دې له پاره يې په کور دننه د برېښنا د توليد په موخه له اوبو، لمر او باد څخه د برېښنا د توليد ګڼې پروژې پېل کړې دي، چې ورسره به د برېښنا ستونزه تر يوه بريده حل شي، صنعتي فعاليتونه به زيات او اوسني صنعتي فعاليتونه به نه ټکني کېږي.

☜ **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو خبرو کې هيله څرګنده کړې چې داسې ورځ ووينې چې افغانستان هم پر ځان بسيا وي او هم صادرات ولري. ان شاءالله! د خدای تعالی په فضل او د افغانستان اسلامي امارت په هڅو افغانستان اوسمهال په يو شمېر برخو کې ځان بسياينې ته رسېدلی او نورو هېوادونو ته صادرات هم لري. د اسلامي امارت د ټولو سکټورونو مسوولين هڅه کوي، په هغو برخو کې چې افغانستان کولی شي خپل توليدات او محصولات ولري، په هغو کې افغانستان ځان بسياينې ته ورسوي او اضافه توليدات او محصولات نورو هېوادونو ته ولېږدوي، چې دا د هېواد اقتصادي پرمختګ او په نړۍ کې د يو مقام ترلاسه کولو له پاره ډېر مهم کار دی.

## پایله

په بغلان کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د غوري سیمنټو د دریمې فابریکې پرانیسته د هېواد د اقتصادي ودې له پاره یو مهم گام دی، چې په دې سره به نه یوازې گڼ کاري فرصتونه ایجاد شي، بلکې د هېواد د سیمنټو برخه کې به د تولید کچه زیاته او د وارداتو کچه به ورسره راکمه شي. ډېرو هېوادوالو په خپلو څرگندونو کې د غوري سیمنټو د دریمې فابریکې پرانیسته یو گټور گام بللی او هیله یې څرگنده کړې چې افغانستان به یو وخت د سیمنټو په برخه کې ځان بسیاینې ته ورسېږي او هم به نورو هېوادونو ته سیمنټ صادر کړي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنگونو لويې لارې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه



## سريزه

افغانستان د سړکونو پراختيا او بيارغونې ته ډېره اړتيا لري. دا بيارغونه نه يوازې د هېوادوالو د تگ راتگ، بلکې د افغانستان د داخلي او سيمه ييزې سوداگرۍ او ترانزيټ له پاره ډېره مهمه ده. د سالنگ لويه لاره د دغو ډول مهمو لارو څخه ده چې منځنۍ او سويلي اسيا سره نښلوي. په دې اساس بيارغونه يې ډېره مهمه ده.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سنبلې مياشتې په نهمه نېټه د سالنگونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ټولگټو وزارت او قراردادي شرکتونو له ترسره شويو کارونو ستاينه وکړه او هغوی ته يې سپارښتنه وکړه، څو د کيفيت په پام کې نيولو سره د ژمي تر را رسېدو مخکې د دغه مهمې لارې پاتې کارونه هم بشپړ کړي.

د ټولگټو وزارت او قراردادي شرکتونو مسوولينو د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ته ډاډ ورکړ، چې د ټولو معيارونو په پام کې نيولو سره د سالنگونو لويې لارې کارونه دوام لري او ژمن دي، چې د روان کال لپاره پلان شوي کارونه به د ژمي تر را رسېدو مخکې بشپړ کړي.

اوسمهال د سالنګونو لويې لارې د جنوبي سالنګ د ۱۰مې تر ۱۵مې ګالرۍ پورې د بيارغونې کارونه بشپړ شوي، چې په مجموع کې د جنوبي سالنګ کارونه ۵۵ سلنه پرمخ تللي دي. په يادو تکميل شوو ګالريو باندې په خورا لوړ کيفيت ۸۵ سانتي متره کانکريټ اچول شوي دي. په ورته وخت کې د شمالي سالنګ د بيارغونې کارونه هم په چټکۍ سره روان دي.


## د سالنګونو لويې لارې له کاري بهير څخه د ليدنې خبر موخه:

په وخت سره د سالنګ لويې لارې د پاتې چارو بشپړول

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۱۳۵ مثبت نظرونه، ۱۳۱ منفي نظرونه او ۲۱ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۴۷٪ مثبت نظرونه، ۴۶٪ منفي نظرونه او ۷٪ سالم وړانديزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- که د سالنګ لویې لارې یو سلنه کار هم شوی وي، د ستاینې وړ دی. ځینې اشخاص منفي فکر کوي یا د سالنګ د بیارغونې پروژه منفي وړاندې کوي. د هغوی شخصي نظر او احساسات دي. سترګې باید پټې نه کړو، د سالنګ د بیارغونې اوسنی کار په تاریخ کې نه دی شوی.
- د سالنګ کارونه روان دي. ښه پرمختګونه به ولرو.
- د سرای شمالي غم وخورئ.
- د کابل- جلال اباد دویم لین سړک ته هم باید توجه وشي، ځکه د وطن په ابادۍ کې زموږ د ټولو افغانانو خیر دی.
- هر نیک اقدام او عام المنفعه کار، چې د هېوادوالو له پاره د اسانتیا سبب ګرځي، د قدر وړ دی.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یوشمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د سالنګ لویې لارې د شوي کار په اړه خوښي څرګنده کړې او ویلي یې دي چې که لږ کار هم شوی وي، نو د ستاینې وړ دی. دوی ویلي چې ځینې اشخاص منفي افکار خپروي او منفي تبلیغات کوي. واقعیت دا دی چې د افغانستان اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته په هېواد کې ډېرې پراختیایي پروژې پیل کړې او د سړک پراختیا او ترانسپورټي شبکو بیارغونې ته یې ډېره توجه وکړه. د سالنګ لویه لاره، چې د هېواد مهمه سوداګریزه او ترانزیټي لاره ده، بیارغول یې د اسلامي امارت له مهمو موخو څخه دي. اسلامي امارت غواړي چې دغه لاره په اساسي ډول ورغوي، څو له یوې خوا هېوادوالو ته په سفر کې اساني پېداشي او له بلې خوا سوداګریزې چارې ورسره ګړندی شي. د اسلامي امارت په اړه یوشمېر خلک، چې زیاتره یې له هېواده بهر دي، منفي تبلیغات کوي او پروپاګند خپروي، څو د اسلامي امارت د لاسته راوړنو منفي تصویر وړاندې کړي، خو په واقعیت کې اسلامي امارت له کورنۍ بودیجې د سالنګ د بیارغونې کارونه پیل کړي او په ټاکلي وخت به یې سرته ورسوي او د خلکو د منفي تبصرو او پروپاګندو پروا به ونه کړي. دغه راز، هېوادوال هم پوهه شوي او د منفي فکر خلکو په تبصرو نه دوکه کېږي.

☜ **دويم:** ځینو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ویلي چې د سرای شمالي غم وخورئ او ځینو بیا د کابل- جلال اباد دویم لین سړک ته د توجه غوښتنه کړې ده. د افغانستان اسلامي امارت د ټول هېواد متوازن انکشاف ته ژمن دی او باور لري چې د افغانستان ګوټ ګوټ ته به توجه کوي. موږ او تاسو ګورو چې د کابل د سرای شمالي د سړکونو د پراختیا کارونه هم په چټکۍ روان دي. د تېرې ادارې پرمهال هیچا دا جرات نه شو کولی چې هلته د ابادۍ یو ګام هم واخلي او سړکونو ته پراختیا ورکړي، خو اسلامي امارت د زورواکو زور ختم کړی او داسې ځایونو کې د ابادۍ کارونه کوي چې چا یې تصور نه شو کولی. د کابل سرای شمالي چې مهمه سیمه ده، د سړکونو د پراختیا له پاره یې کابل ښاروالۍ هڅې کوي، څو هلته ګڼه ګوڼه راکمه کړي او هېوادوال له ستونزو خلاص کړي. دغه راز، د کابل-جلال اباد دویم لین سړک کارونه هم روان دي او هلته ماشینري کار کوي، خو دا چې فاصله ډېره او د پلونو او پلچکونو کارونه لږ وخت غواړي، نو له دې امله کارونه لږ ځنډېږي، کنه هلته هم کار روان دی او مسوولین یې وخت په وخت څارنه کوي.

☜ **درېیم:** ځینو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د هر ډول عام المنفعه کارونو کول د ستاینې وړ بللي دي. رېښتیا خبره دا ده چې زموږ هېوادوال ډېر شکر ګزاره دي او د افغانستان اسلامي امارت له کړنو راضي دي. دوی پوهېږي چې د نړیوالو تحریمونو او مالي ستونزو سربېره اسلامي امارت په هېواد کې لویې پروژې پیل کړې دي. د برېښنا، صنعت، سړکونو، کانونو او نورو سکتورونو کې د ابادۍ کارونه روان دي او هېوادوال مو وینې چې بشپړېدونکې پروژې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي او نوې پروژې پرانیستل کېږي. اسلامي امارت هیله لري چې افغانستان له نړۍ سره په اقتصادي برخه کې سیال کړي، کاري فرصتونه ایجاد او هېواد په ټولو سکتورونو کې پرمختګ وکړي.

## پایله

د سالنګ لویه لاره د هېواد له مهمو سوداګریزو لارو یوه ده چې نه یوازې د هېواد په داخلي اتصال کې مهم رول لوبوي، بلکې د سیمې د ترانزیټ له پاره هم ډېره مهمه ده. د افغانستان اسلامي امارت، چې اقتصاد محوره پالیسي یې غوره کړې، په سیمه ییز اتصال باور لري او د همدې موخې ترلاسه کولو له پاره یې په هېواد کې د سړکونو پراختیا او بیارغونې ته توجه ډېره کړې ده. ډېرو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د سالنګ لویې لارې د کارونو ستاینه کړې او په چارو یې خوښي څرګنده کړې ده.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې دویم فاز پرانیست




## سریزه

افغانستان په یوویشتمه پېړۍ کې لا هم په کرنه متکي دی، خو په نننۍ نړۍ کې د اقتصادي پرمختګ له پاره د صنعت وده ډېره مهمه ده. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې افغانستان په یوه صنعتي هېواد بدل کړي او د دې له پاره یې په تېرو کلونو کې ډېرې هڅې کړې، کورنۍ او بهرنۍ پانګونه یې جذب کړې او پانګوالو او صنعتکارانو ته یې ډېر امتیازات او اسانتیاوې برابرې کړې دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د میزان میاشتې په ۲۸مه نېټه هرات ولایت ته د خپل سفر پرمهال په هرات صنعتي پارک کې د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې د دویم فاز پرانیسته وکړه. محترم ملا صاحب وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره سیمه ییزو او د نړۍ ډېری هېوادونو له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره عملي ګامونه اخیستي او دا هڅې د لا پراخېدو په حال کې دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د صنعت ودې ته ځانګړې پاملرنه کړې او په همدې موخه یې په کور دننه د برېښنا تولید او وارداتي برېښنا لویې پروژې پیل کړې دي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو پانګوالو غږ وکړ چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، اسلامي امارت د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي. د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې په دویم فاز ۲۰ میلیون ډالر پانګونه شوې، چې په ورځني ډول د ۵۰۰ ټنه اوسپنې د پروسس وړتیا لري.


## د کابل فولاد اوسپنې ويلې کولو فابريکې د دويم فاز د پرانيستې موخه:

د هېواد صنعتي پرمختګ

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (د کابل فولاد اوسپنې ويلې کولو فابريکې د دويم فاز پرانيستې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۷۰ مثبت نظرونه، ٦٨ منفي نظرونه او ۱۴ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۷۷٪ مثبت نظرونه، ۱۹٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړانديزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته مورږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا د افغانستان له پاره يوه حياتي پروژه ده. خدای تعالی دې په کې برکت واچوي.
- دا اساسي کار دی، هېواد به پرمختګ وکړي.

- دا لویه پروژه د افغانستان د پرمختګ او ښېرازۍ له پاره یو مثبت ګام دی. په دې ډول کبدلی شي چې هېواد کې کاري فرصتونه ایجاد شي.
- په افغانستان کې باید زیاتې تولیدي کارخانې جوړې شي، څو د هېواد ځوانان په کار بوخت شي.
- تر خپله وسه هڅه وکړئ چې افغانستان کې تولید شوي توکي واخلئ، که لږ قیمته وي، نو هم وایې خلئ، څو کورني صنعت ته یې ګټه ورسېږي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د کابل فولاد فابریکې د دویم فاز پرانیسته یو لوی کار او د هېواد له پاره یوه لویه پروژه بللې ده. د هغوی له نظره دا یو اساسي کار دی. هو! دا ریښتیا هم یو لوی کار دی او د هېواد له پاره یوه لویه پروژه ده چې ورسره به د هېواد صنعتي وده ګړندۍ شي او د هېواد د خامو موادو د پروسس له پاره به د هېواد دننه زمینه برابره شي. هېوادونه په یو ځل او یوه ورځ پرمختګ نه کوي، بلکې دا اوږده پروسه وي او اساسي کار غواړي. د هېواد د پرمختګ له پاره مهمه ده چې ډېر او سخت کار وشي. د افغانستان اسلامي امارت هم په حکومتي کچه او هم د خصوصي سکټور له لارې د هېواد د پرمختګ له پاره هلې ځلې کوي چې موږ تاسو هره ورځ د خصوصي سکټور د پانګونې خبرونه اورو. دا پانګونه ریښتیا هم د هېواد له پاره اساسي کار دی، چې پر بنسټ به یې زموږ هېواد د پرمختګ پړاوونه رالنډ کړي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو نظریاتو کې لیکلي چې د فابریکو په جوړېدو سره په هېواد کې کاري فرصتونه ایجادېدلی شي. هغوی د هېواد د ځوانانو له پاره د فابریکو د جوړېدو غوښتنه هم کړې ده. په یو هېواد کې د کاري فرصتونو د ایجاد له پاره د فابریکو جوړېدل ډېر ضروري دي، ځکه په دې سره ډېرو خلکو ته کاري فرصتونه ایجادېږي. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته د هېواد په مختلفو ولایتونو کې صنعتي فابریکې جوړې شوې چې ګڼو هېوادوالو ته په کې د کار زمینه برابره شوې ده. ځوانان د یو هېواد د ملا د تیر حیثیت لري او همدا ځوانان وي چې د یو هېواد په ابادۍ کې مهم رول لوبوي. اسلامي امارت غواړي چې د هېواد د ځوانانو له ظرفیت څخه استفاده وشي او کاري فرصتونه ورته ایجاد کړي. موږ او تاسو ګورو چې په تېره څه موده کې د کاري فرصتونو د ایجاد په موخه، د امارتي او خصوصي سکټور له لوري، ګڼو فابریکو فعالیت پیل کړ، چې ورسره ګڼو ځوانانو ته د کار زمینه برابره شوه. اسلامي امارت د کاري فرصتونو د ایجاد په موخه کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذبوي او په دې اړه ډېر امتیازات او اسانتیاوې لکه د ځمکو ورکړه، د مالیې معافیت او ځینې نور لوی امتیازات یې پانګوالو او صنتعکارانو ته ځانګړي کړي دي.

☜ **درېيم:** ځينو تبصره کوونکو په خپلو څرګندونو کې له هېوادوالو غوښتي تر خپله وسه دې د افغانستان توليدات واخلي، تر څو کورنۍ صنعت وده وکړي. بلکل! دا ډېر ښه نظر دی. د هېواد د صنعتي ودې او اقتصادي پرمختګ له پاره په کار ده چې خپل توليدات وپېرو. په دې سره به صنعتکاران او پانګوال په هېواد کې نورې پانګونې ته وهڅېږي، چې ورسره به کاري فرصتونه هم ايجاد شي او په ټوله کې به د ملي اقتصاد د غوړېدا لامل شي.

## پايله

د کابل فولاد فابريکې د دويم فاز پرانيسته د هېواد د صنعتي ودې په لور يو مهم ګام دی. د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د خصوصي سکتور د پانګونې ملاتړ کوي او لازمې اسانتياوې يې ورته برابرې کړې دي.

هېوادوالو په خپلو نظرياتو کې د يادې فابريکې د دويم فاز پرانيسته مثبت ګام بللی او هيله يې ښودلې چې دا به د هېواد په اقتصادي وضعيت کې بدلون راولي او د کاري فرصتونو د ايجاد لامل به شي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له اجرائیوي رئیس سره وکتل



## سریزه

افغانستان تر ځمکې لاندې ډېر نااستخراج شوې شتمنۍ لري، چې په استخراج سره یې هېواد اقتصادي پرمختګ ته رسېدلی شي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د کورنۍ پانګې ترڅنګ بهرنۍ هغه هم جذب کړي، څو د هېواد د اقتصادي پرمختګ له پاره زمینه برابره شي، ځکه پانګونه د هېواد د بریا کیلي ده او له دې پرته افغانستان کې کاري فرصتونه او اقتصادي وده منځته نه شي راتلی.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د عقرب په دویمه نیټه، د سعودي عربستان د «دلتا انټرنشنل» کمپنۍ له اجرائیوي رئیس شاهر التقي سره په داسې حال کې ولیدل چې د امریکا پخواني ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم حضور درلود. په دې لیدنه کې دواړو لورو د ګازو د اکتشاف، استخراج او د ګازو د نل لیکو غځولو په اړه خبرې وکړې.

د یاد شرکت اجرائیوي رئیس د افغانستان د نفتو او ګازو په برخه کې د پانګونې له پاره لېوالتیا ښرګنده کړه او ژمنه یې وکړه چې له افغان انجنیرانو سره به خپلې تجربې شریکې کړي.


## د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له اجرائیوي رئیس سره د لیدنې موخه:

د بهرنۍ پانګونې جذب.

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له اجرائیوي رئیس سره لیدنې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۳۱ مثبت نظرونه، ۲٦۵ منفي نظرونه او ۱۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۴۵٪ مثبت نظرونه، ۵۲٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړاندیزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- ډېر په ځای اقدام دی او یوه تاریخي لیدنه شوې. سعودي که زموږ د معادنو استخراج په غاړه واخلي، نو دا به یو تاریخي، دیني او تمدني چاره وي.

- سعودي هم امکانات لري او هم استخراج کې کافي تجربه لري، تر څو ټول افغانان ژمي کې تاوده او د ځنګلونو د قطع کېدو لامل نه شي.

- ډېر عالي! د افغانستان د پرمختګ له پاره ضروري ده چې له نړیوالو شرکتونو سره قرارداد وشي.
- په افغانستان کې که په میلیاردونو ډالرو پانګونه وشي، هم کمه ده.
- بندونو او اوبو مدیریت ته هم توجه وکړئ.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د سعودي عربستان د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له مشر سره د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال لیدنه یو تاریخي ګام بللی او ویلي یې دي چې سعودي د استخراج ډېره تجربه لري. بلکل! د افغانستان اسلامي امارت هم غواړي چې خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي او داسې هېوادونه په اقتصادي لحاظ په افغانستان کې ښکېل کړي چې په اړوندو سکټورونو کې ډېره تجربه ولري. سعودي په ځانګړي ډول د تېلو د استخراج کافي امکانات او تجربه لري او افغانستان کولی شي چې د هغوی له تجربې څخه استفاده وکړي. افغانستان غواړي چې د تېلو او ګازو برخه کې د سعودي له تجربې استفاده وکړي، ځکه افغانستان تر ځمکې لاندې ډېره نااستخراج شوې شتمني لري او د دې له پاره ضروري ده چې د سعودي په څېر هېوادونو سره اړیکې پراخه او هغوی ته په افغانستان کې د پانګونې بلنه ورکړل شي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د هېواد د پرمختګ له پاره پانګونه ډېره ضروري بللې او ویلي یې دي چې په افغانستان کې ډېره پانګونه په کار ده. هو! په افغانستان کې اوس د پانګونې له پاره ښه فرصت برابر شوی او د افغانستان اسلامي امارت د پانګوالو له پاره ګڼ امتیازات او اسانتیاوې برابرې کړې دي. پانګوال کولی شي له دغو امتیازاتو او اسانتیاوو څخه برخمن شي. اسلامي امارت د ملاتړ ډاډ ورکوي. په افغانستان کې د کاري فرصتونو د ایجاد او اقتصادي ودې له پاره پانګونه ډېره مهمه ده. ځکه افغانستان له اشغال او جګړې وروسته بیارغونې ته اړتیا لري او له پانګونې پرته دغه اړتیا نه پوره کېږي. اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې له ګڼو بهرنیو او کورنیو شرکتونو سره قراردادونه کړي او میلیاردونه افغانۍ پانګونه یې د هېواد د بیارغونې او کاري فرصتونو د ایجاد له پاره جذب کړې ده.

☜ **درېیم:** ځینو هېوادوالو په خپلو نظریاتو کې لیکلي چې د اوبو بندونو او اوبو مدیریت ته دې توجه وشي. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اوبو سالم مدیریت په خپل لومړیتوب کې نیولی او غواړي چې خپلې اوبه د کرنې او برېښنا د تولید له پاره مهار کړي، خو د چا حق هم ونه خوري. موږ او تاسو ګورو چې په تېرو څلورو کلونو کې د اوبو د مدیریت په برخه کې ډېری بندونه جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول او د یو شمېر نورو د

جوړېدو چارې روانې دي. اسلامي امارت غواړي چې هېواد کې کرنه وده وکړي او د بندونو په جوړېدو سره برېښنا تولید کړي، څو په بهرنۍ برېښنا تکیه راکمه شي.

## پایله

د سعودي عربستان د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له مسوولینو سره د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند لیدنه د ګڼو هېوادوالو له هرکلي سره مخ شوې او هیله یې څرګنده کړې چې په افغانستان کې د سعودي شرکتونو پانګونه به د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل شي.

د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې بهرني پانګوال په افغانستان کې پانګونه وکړي، ځکه هېوادونه له پانګونې پرته ابادېدای نه شي او د کاري فرصتونو د ایجاد او اقتصادي ودې یوه مهمه لاره همدا پانګونه ده.

# د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه
# ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه




## سریزه

برېښنا نه یوازې د هېوادوالو کورونه روښانوي، بلکې د هېواد د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو د ایجاد لامل هم کېږي. افغانستان پرېمانه اوبه لري، چې د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت برابروي. دغه راز، د هېواد لمر او باد هم د برېښنا تولید کې مهمه ونډه لري. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د هېواد له شته ظرفیت څخه استفاده وشي او موږ ګورو چې په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا د تولید پروژې پیل دي او ځینې یې ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي. دغه ډول یوه پروژه په پنجشېر کې هم ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د عقرب په ۲۲مه نېټه د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارله.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د صنعت د پرمختګ لپاره برېښنا اړینه وبلله او ویې ویل، چې افغانستان له کونړ سیند نیولې د هلمند او فراه تر پراخو لمر لرونکو دښتو او د هرات او نیمروز تر چټکو بادونو پورې د برېښنا تولید له پاره بې شمېره سرچینې لري. هغه زیاته کړه، د برېښنا په برخه کې خودکفایی ته رسېدل اسلامي امارت په خپلو لومړیتونو کې نیولي او په دې برخه کې اساسي هڅې کوي.

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په خبره، د برېښنا په برخه کې په خودکفا کېدو سره به افغانستان د بې کيفيته وارداتو پر ځای باکيفيته توکي بهر ته صادروي او هېواد ته به د پانګې راتلو دروازې پرانيستل شي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ټولو سوداګرو او پانګوالو غږ وکړ چې په افغانستان کې د صنعت او په ځانګړې ډول د برېښنا د توليد په برخه کې پانګونه وکړي او اسلامي امارت ډاډ ورکوي، چې هر ډول اسانتياوې ورته برابروي.

د پنجشير پارنده برېښنا توليدي فابريکه څلور مېګاواټه برېښنا توليدوي، چې تر ډېره به د دغه ولايت د اوسېدونکو د برېښنا ستونزې ورسره حل شي.


## د پنجشېر پارنده برېښنا توليدي فابريکې د ګټې اخيستنې موخه:

د هېوادوالو د برېښنا ستونزې حل کول

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (د پنجشېر پارنده برېښنا توليدي فابريکې ګټې اخيستنې) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ٦٠٦ مثبت نظرونه، ٨٩ منفي نظرونه او ١٦ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ٨٥٪ مثبت نظرونه، ١٣٪ منفي نظرونه او ٢٪ سالم وړانديزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا هغه کار و چې زرګونو جنرالانو او مسوولينو په تېره اداره کې د پنجشېر خلکو ته ونه کړ.
- د ستاينې او قدر وړ دی. دا لومړی ځل دی چې په پنجشېر کې دومره لويه پروژه ګټې اخيستنې ته سپارل کېږي.
- ښه ده چې د خلکو د فلاح له پاره نيمګړې پروژې بشپړېږي.
- د دې پروژې پرانيستل د ټولو افغانانو له پاره د خوښۍ خبر دی.
- د اوبو بندونو کار ته بايد لومړيتوب ورکړل شي. ځکه حياتي مسله ده، که نه نو ناورين به رامنځته شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** يوشمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ويلي، سره له دې چې د پنجشېر اوسېدونکو په تېره اداره کې زرګونه مسوولين لرل، خو د پنجشېر خلکو ته يې هغومره خدمت ونه کړ، څومره چې په کار و. هو! په تېره اداره کې د پنجشېر ډېر خلک په مهمو او لوړو پوستېونو مقرر وو، خو له فساد او زورواکۍ پرته يې بل څه ونه کړل. نه يې د خپل ولايت د خلکو ښه استازولي وکړه، نه يې ورته خدمت وکړ او نه يې ورته لويې پروژې جوړې کړې، بلکې برعکس خپل جېبونه يې ډک کړل او غريب ولس همداسې بې برېښنا او بې پروژو پاتې شو. خو د افغانستان اسلامي امارت د پنجشېر خلک له هغو خلکو خلاص کړل او ډېرې عام المنفعه پروژې يې پيل کړې، چې د پارنده برېښنا توليدي فابريکه يې تر ټولو ښه بېلګه ده. اسلامي امارت غواړي چې پنجشېر کې ګڼې پروژې پلې شي، څو خلکو ته په خپل ولايت کې د کار زمينه برابره او اقتصادي وده رامنځته شي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو نظرياتو کې د نيمګړو پروژو بشپړول مثبت کار بللی او دا يې د ټولو افغانانو له پاره د خوښۍ خبر ګڼلی دی. د افغانستان اسلامي امارت له خپل راتګ وروسته په هېواد کې د ټولو نيمګړو پروژو ارزونه وکړه او هغه پروژې يې بېرته پيل کړې چې چارې يې نيمګړې پاتې وې. اسلامي امارت د بهرنيو بنديزونو او مرستو کمېدو سربېره د هېواد ملي بوديجه برابروي او ټولې امارتي پروژې له ملي بوديجې تمويلوي. موږ او تاسو ګورو چې په تېرو څه باندې پنځو کلونو په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا، صنعت، کرنې او نورو مهمو سکتورونو کې مختلفې پروژې پلې شوې دي، چې ګڼ شمېر هېوادوالو ته يې د کار زمينه برابره کړې او د هېواد

اقتصادي وده کې يې هم مهم رول لوبولی دی. همدا لامل دی چې هېوادوال د اسلامي امارت استقلالیت ستايي او په هېواد کې د پروژو سرته رسولو باندې خوښي څرگندوي. ټول افغانان د اسلامي امارت له کړنو راضي او د پرمختگ په هر خبر خوښي ښکاره کوي.

☜ **درېيم:** يوشمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د اوبو بندونو جوړولو ته د لومړيتوب د ورکړې غوښتنه کړې ده. باید وويل شي  چې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اوبو مديريت په خپلو لومړيتوبونو کې نيولی دی او په دې اړه په تېرو څو کلونو کې جدي گامونه اخيستل شوي دي. د اوبو مديريت نه يوازې د هېواد د کرنې له پاره مهم دی، بلکې د برېښنا د توليد له پاره هم اړينه ده چې اوبه مديريت شي. له همدې امله ده چې اسلامي امارت دواړو سکټورونو ته پوره توجه کړې ده. د قوش تېپې ملي کانال په څېر لويه او ملي پروژه يې پېل کړې او د برېښنا د توليد له پاره يې په مختلفو ولايتونو کې د اوبو د لويو او کوچنيو بندونو جوړولو چارې پېل کړې، چې د ځينو بندونو چارې بشپړې شوې او گټې ته اخيستنې ته سپارل شوي دي. هېوادوال دې ډاډه اوسي چې اسلامي امارت اوبه خپله ملي شتمني گڼي او سالمې استفادې ته يې ژمن دی.

## پايله

د پنجشېر پارنده برېښنا توليدي فابريکې گټې اخيستنې ته سپارل د پنجشېر اوسېدونکو له پاره ډېر مهم و، ځکه هلته په سيمه کې د برېښنا ستونزه وه، چې د دې توليدي فابريکې له گټې اخيستنې سره به د ډېرو خلکو ستونزې حل شي. هېوادوالو په خپلو نظريانو کې د افغانستان اسلامي امارت له پالیسیو ملاتړ کړی او هغه يې د هېوادوالو د خېر او فلاح له پاره گټورې بللې دي. هغوی د پنجشېر پارنده برېښنا توليدي فابريکې پروژې په څېر د اوبو د مديريت د نورو پروژو غوښتنه کړې او اسلامي امارت ژمن دی چې د هېواد د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو د ايجاد په موخه د هېوادوالو غوښتنو ته ځواب ووايي، لکه له دې وړاندې چې يې په مختلفو ولايتونو کې ورته ژمنې عملي کړې دي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: ټول صنعتکاران او سوداګر دې د پاکستان پر ځای له بدیلو سوداګریزو لارو استفاده وکړي



## سریزه

له نېکه مرغه افغانستان د خپلې سوداګرۍ او ترانزیټ له پاره پر یو هېواد متکي نه دی او ډېرې بدیلې لارې لري چې په استفادې سره یې افغان سوداګر خپل مالونه صادر او واردولی شي. اوس یوازې پاکستان د سوداګرو انتخاب نه دی، بلکې نورې لارې شته چې افغان سوداګر یې کاروي او د افغانستان اسلامي امارت همدې ته په کتو وروستیو کې ځینې سخت ګامونه پورته کړل. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند، د ۱۴۰۴ هجري لمریز کال د لړم پر ۲۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د مالیې او صنعت او سوداګرۍ د وزارتونو د مسوولینو په حضور کې د سوداګرانو او صنعتکارانو له استازو سره د ناستې په وخت کې د افغانستان اسلامي امارت د بدیلو تجارتي لارو د کارولو پرېکړه اعلان کړه. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل چې ټول صنعتکاران او تاجران باید د پاکستان پر ځای له نورو لارو څخه د تجارت لپاره استفاده وکړي، څو په دې برخه کې عملي ګامونه پورته شي او د هېواد صادرات او واردات له ستونزو سره مخ نه‌شي. د پاکستان لارې نه یوازې زموږ تاجران متضرر کړي، بلکې د هېواد بازارونه او عام خلک یې هم له ګڼو ستونزو سره مخ کړي دي. محترم ملا صاحب وویل: «د دې خبرتیا له لارې اسلامي امارت له ځان څخه مسؤلیت لرې کوي او تاسو ته په واضح ډول وایي چې که له دې اعلان وروسته یو څوک خپل سوداګریز توکي د پاکستان له لارې وارد یا صادر

کړي، نو که هر ډول ستونزه رامنځته شي، اسلامي امارت به هېڅ ډول رسیدګي ونه‌کړي او غږ به یې وا نه‌وري.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې د روغتیا سکتور اصلي ستونزه او په ټولیز ډول د سلګونو میلیونو ډالرو وتل، د پاکستان څخه د بې کیفیته دواګانو د وارداتو له امله دي. هغه له واردونکو نه په ټینګار وغوښتل چې خپل واردات دې له نورو هېوادونو او بدیلو لارو څخه ترسره کړي او په عاجل ډول دې بدیلو مسیرونو ته مخه کړي.هغه زیاته کړه «که چا په پاکستان کې قرارداد یا پېر کړی وي، درې میاشتې مهلت ورکول کېږي چې په همدې موده کې خپل ټول حسابونه له هغه ځایه تصفیه کړي او کار پای ته ورسوي.» محترم ملا صاحب د مالیې وزارت ته لارښوونه وکړه چې له دې نېټې درې میاشتې وروسته دې له پاکستان څخه د دوا واردولو اجازه هېچا ته نه ورکوي او هېڅ‌چا ته دې اجازه ور نه‌کړل شي چې دوا له هغه ځایه راوړي.

محترم ملا صاحب په همدې ناسته کې وویل چې اسلامي امارت تل د خپلو اقتصاد محورو سیاستونو په چوکاټ کې له ګاونډیو هېوادونو سره سالمې سوداګریزې اړیکې ساتلې او تل به یې وساتي؛ خو که نور هېوادونه زموږ له معقول سیاست څخه ناوړه ګټه واخلي، موږ هم اړ کېږو چې بدیلې لارې ولټوو. د محترم ملا صاحب په وینا، پاکستان څو ځله تجارتي لارې تړلې او له سوداګریزو او بشري موضوعاتو څخه یې سیاسي استفاده کړې، چې په پایله کې د دواړو هېوادونو تاجران او صنعت‌کاران زیانمن شوي، اسلامي امارت اړ شو چې دغه پرېکړه وکړي. محترم حاجي ملا صاحب وویل: «که پاکستان د لارو د خلاصون غوښتونکی وي، دا کار به یوازې د قوي او معتبرو تضمینونو په بدل کې ترسره شي؛ هغه تضمینونه چې په هېڅ حالت او شرایطو کې د لارو د بیا تړلو سبب نه‌شي.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند څرګنده کړه چې افغانستان اوس داسې هېواد دی چې د خپلو وارداتو او صادراتو لپاره بېلابېلو لارو او دهلیزونو ته لاسرسی لري، پر یوه هېواد تکیه نه لري، بلکې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره یې سوداګریزې اړیکې د پخوا په پرتله څو چنده پیاوړې شوې دي. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «د لارو تنوع په عملي توګه موږ له اقتصادي او سیاسي فشارونو څخه ساتي. د الله تعالی په مهربانۍ د مسیرونو په تنوع او مناسبو سیاستونو سره موږ له هغه وضعیت را ایستل شوي یوو چې کله به یوه لاره تړل کېده، د هېواد د اجناسو بیې به لوړېدې او پر خلکو به سخت فشار راتلو.» اسلامي امارت په دوامدار ډول هڅه کوي چې د سیمه‌ییز او نړیوال اتصال لپاره نوي بدیل مسیرونه جوړ کړي او موجودې لارې له زیربنایي او تخنیکي اړخه معیاري او د ظرفیت وړ کړي.


## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: ټول صنعتکاران او سوداګر دې د پاکستان پر ځای له بدیلو سوداګریزو لارو استفاده وکړي، د دې پرېکړې موخه:

افغان سوداګر له ستونزو خلاصول

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د نظرونو او وړانديزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنيو کې د (محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: ټول صنعتکاران او سوداګر دې د پاکستان پر ځای له بديلو سوداګريزو لارو استفاده وکړي) نشر شوي خبر په اړه خپل نظريات او وړانديزونه شريک کړي دي، چې په ټوله کې ۱۹۵۶۴ مثبت نظرونه، ۲۳۴ منفي نظرونه او ۱۳۱ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۸٪ مثبت نظرونه، ۱٪ منفي نظرونه او ۱٪ سالم وړانديزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- بهترينه او کامیابه پاليسي. ان شاءالله چې د وخت په تيريدو به ټول مشکلات ختم شي.
- د افغانستان اسلامي امارت دا کار د ستاينې وړ دی. يو چا ته يوازې په توپ او ټوپک ضربه نه ورکول کېږي، بلکې اقتصادي ضربه بهتره ده.
- دا پاليسي څرګندوي چې زموږ د هېواد صنعت‌کاران او سوداګر بايد د نوښت، ابتکار او متنوع سوداګريزو لارو په لټه کې شي، نه يوازې د يوه ګاونډي هېواد په تکيه کولو.
- سوداګر بايد هميشه بديلي لارې انتخاب کړي.

⦿ نيک کار دی، بايد د افغانستان د برېښنا ستونزه هم حل شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** لوی اکثريت هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د افغانستان اسلامي امارت له هغه اعلانه ملاتړ کړی، چې له افغان سوداګرو يې د پاکستان پر ځای د بديلو سوداګريزو لارو د استفادې غوښتنه کړې او هم يې د درملو سوداګرو ته درې مياشتې مهلت ورکړی چې خپل حسابونه تصفيه کړي او نور افغانستان ته پاکستاني درمل وارد نه کړي. هېوادوالو د اسلامي امارت دا ګام د ستاينې وړ بللی او يوه برياليۍ پاليسي يې ګڼلې ده. پاکستان په وروستيو کلونو کې څو ځلې د افغاستان د مېوو او سبزيو د حاصل پر مهال په يو اړخيز ډول لارې تړلې او بيا به چې د هغوی د مېوو او سبزيو وخت شو، نو لارو خلاصولو ته به يې بيره وه، ځکه پاکستان يوازې خپلې اقتصادي ګټې په نظر کې نيولې او د ښه ګاونډيتوب اصل يې نظر کې نه دی نيولی. د اسلامي امارت دغه پرېکړه، چې د ټولو هېوادوالو له لوري ستايل شوې، د هېواد د بزګرانو او سوداګرو د ملاتړ او د دوی د اقتصادي زيان کمولو له پاره ده، څو سوداګر يوازې پر پاکستان تکيه نه شي او د دې له پاره چې په راتلونکي کې د پاکستان له لوري د لارو تړلو له امله له زيان سره مخ نه شي، نو بهتره ده چې د پاکستان پر ځای له نورو بديلو لارو استفاده وکړي. افغانستان د ايران (چابهار)، ازبيکستان، ترکمنستان او نورو لارو له لارې کولی شي د هند، چين، اروپا او نورې نړۍ له بازارونو سره ونښلي او سوداګري وکړي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې له افغان سوداګرو غوښتي چې د خپلې سوداګرۍ له پاره بديلې لارې انتخاب کړي او يوازې په پاکستان متکي پاتې نه شي. د هېوادوالو دا وړانديز بلکل پر ځای دی. زموږ سوداګرو ته په کار ده چې د خپلو توکو د لېږد رالېږد له پاره يوازې په يو هېواد يعنې پاکستان تکيه ونه لري، بلکې له پاکستان پرته موږ نور ګاونډيان هم لرو چې کولی شي زموږ سوداګر د هغوی له بازارونو او ترانزيټي لارو استفاده وکړي او خپل توکي د نړۍ بازارونو ته ورسوي او له هغه لوري واردات وکړي. افغانستان که څه هم په وچه کې ايسار هېواد دی، خو له نړۍ سره يې اړيکې دومره پراخه دي چې په وچه بند ايسار حالت پرې ډېر اغېز نه کوي.

☜ **درېيم:** يوشمېر هېوادوالو سره له دې چې د پاکستان په تړاو د افغانستان اسلامي امارت وروستی دريځ ستايلی، خو د برېښنا د کمښت ستونزه يې هم ياده کړې ده. د دوی دا نظر پر ځای دی، ځکه د يو هېواد د اقتصادي ودې له پاره برېښنا ډېره ضروري ده. خو اسلامي امارت هم کرار ناست نه دی، بلکې د برېښنا د توليد له پاره يې له کورنيو سرچينو استفاده پيل کړې او موږ ګورو چې د اوبو، لمر او باد څخه د برېښنا د توليد ګڼې پروژې د عملي کېدو په حال کې دي، چې يوشمېر يې ګټې اخيستنې ته سپارل شوې دي.

## پایله

پاکستان وخت نا وخت د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ پر مخ لارې تړلې او له دې لارو به یې سیاسي او اقتصادي استفاده کوله، خو د افغانستان اسلامي امارت اوس د لارو پرانیستو له پاره د قوي تضمینونو ورکولو شرط ایښی دی، ځکه د پاکستان د ناسمې پالیسۍ له امله به ډېرو افغان سوداګرو او بزګرانو ته زیان رسېده، چې جبران به یې ډېر سخت و.

هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د اسلامي امارت له وروستي دریځه ملاتړ کړی او له ټولو افغان صنعتکارانو او سوداګرو یې غوښتي چې د پاکستان پر ځای له بدیلو سوداګریزو لارو استفاده وکړي، ځکه افغانستان اوس له نورې نړۍ سره د سوداګرۍ له پاره پر یو هېواد متکي نه دی، بلکې ډېرې بدیلې سوداګریزې لارې لري.

# ملي تدارکاتو کمیسیون د شاوخوا ۵. ۱میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۱ پروژې منظورې کړې



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت د ټول هېواد پرمختګ ته ژمن دی. همدا لامل دی چې د ملي تدارکاتو کمېسیون وخت پر وخت د هېواد په مختلفو ولایتونو کې پروژې منظوروي، څو ټول هېواد متوازن انکشاف وکړي او د ښارونو ترڅنګ ولسوالۍ او کلي هم انکشاف ومومي او کاري فرصتونه رامنځته شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ۱۴۰۴ کال د قوس میاشتې په ۱۱مه نېټه د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. غونډې ته ۳۰ پروژې د منظورۍ له پاره وړاندې شوې. په غونډه کې له هراړخیز بحث وروسته د څه باندې یو میلیارد او ۵۳۸ میلیونو افغانیو په ارزښت ۱۱ پروژې منظورې شوې او په ۱۵ پروژو کې بیا یولړ تعدیلونه راغلل. همدارنګه د یوې پروژې قرارداد فسخه، یوه اعاده او د دوو پروژو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې د پروژې هر اړخیزه ارزونه وکړي او پایلې یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په منظور شویو پروژو کې د تخار ولایت د درقد ولسوالۍ یتیم تپې د تحکیماتو نهم لاټ، د غور د هوایي ډګر د ځغاستلیکې ترمیم، د کابل نړیوال هوایي ډګر د حفظ او مراقبت قراردادونو ورکړه، د بغلان د دهنه غوري د څه باندې ۱۷ کیلومتره سړک جوړول، د پکتیکا د زرګرانو ـ ګردیز ښار سړک جوړول، د شمال ډبرو سکرو امارتي شرکت ته د معدني وسایلو پیرودل، د افغان تور امارتي شرکت د اړتیا وړ موټرو پیرودل، له قرباغ او مقر څخه

ترشاه جوی پورې د سب ستیشنونو جوړول او نصب، د کابل موسهي ولسوالۍ د برق رسونې، ساختماني موادو، نصب او مونتاژ او د دغه ولایت د باریکاب د ۲۲۰ کیلوولټه سب سټیشن د سروې، ډیزاین او تیست د ورکړې قراردادونه شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلیږي.

## د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۱۱ پروژو د منظورۍ موخه:

د هېواد اقتصادي وده

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې (د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د ۱۱ پروژو د منظورۍ) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۴۹۷ مثبت نظرونه، ٦١ منفي نظرونه او ۲۸ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۵٪ مثبت نظرونه، ۱۰٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز او تحلیل یې په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- د رغونې او بیارغونې چارې پرمخ تلل او له دې ادرسه د پروژو احیاء، ملي پراختیا او پرمختیا ته لاره هواروي.
- ماشاءالله. په ټول هېواد کې بیارغونه جریان لري. نه تعصب شته او نه قوم پرستي. د افغانستان اسلامي امارت پر رهبری دې افرین وي.
- زموږ د ملي تدارکاتو له کمیسیونه دا غوښتنه ده، چې په میدان وردګو ولایت کې د چک او جلګې (دایمیرداد) ترمنځ غځیدلی سړک هم منظور کړي.
- هیله ده د زرمت-ګردېز عمومي سرک درېیم او څلورم فاز په نظر کې ونیول شي.
- د دې پروژو پر ځای بندونه جوړ کړئ.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثریت هېوادوالو په خپلو نظریاتو کې د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري په منظور شویو پروژو خوښي ښودلې او ویلي یې دي چې دغه ډول پروژې د هېواد د پرمختیا او پراختیا لامل کېږي. دوی ویلي چې په ټول هېواد کې له تعصب پرته د ابادۍ کارونه روان دي. رېښتیا خبره دا ده چې د ملي تدارکاتو کمېسیون په همدې موخه ایجاد شوی چې د ټول هېواد پرمختیا په نظر کې ونیسي، شفافیت تامین او عدالت ته پام وکړي. د افغانستان اسلامي امارت چې په قومي سیاست باور نه لري، ځان د ټول افغانستان مسوول بولي او د ټول افغانستان پرمختګ ته ژمن دی. په همدې اساس موږ او تاسو ګورو چې د هېواد په لر و بر کې د بیارغونې پروژې روانې دي. که د قوش تېپې ملي کانال دی، که د لغمان شاهي کانال دی، که سړکونه او لویې لارې دي، که د برېښنا پروژې دي او که صنعتي فعالیتونه دي، دا ټول د هېواد په هر ګوټ کې روان دي. اسلامي امارت غواړي چې ټول هېواد متوازن پرمختګ وکړي او د هېواد ټول وګړي د نړۍ له عصري پرمختګونو برخمن شي. ټولو هېوادوالو ته کاري فرصتونه ایجاد شي او ټول د هېواد په پرمختګ کې ونډه ولري.

☜ **دویم:** یوشمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې په خپلو ولایتونو کې د پروژو غوښتنه کړې. د افغانستان اسلامي امارت هیله لري او هڅه کوي چې ټول افغانستان اباد کړي. د ټول افغانستان سړکونه او لویې لارې پخې شي،

څو هېوادوال له ترافیکي ستونزو خلاص او اسانتیاوې ورته برابرې شي. خو مور او تاسو پوهېږو چې هېڅ حکومت په یو مهال کې په ټول هېواد کې د پرمختګ کارونه نه شي پیلولی. هېوادونه په یوه ورځ او یو کال کې پرمختګ نه کوي، بلکې د هېوادونو په پرمختګ کې کلونه او لسیزې لګېږي. افغانستان چې اشغال او جګړو ځپلی، نو له جګړې وروسته بیارغونه ډېر وخت ته اړتیا لري. په همدې اساس هېوادوال باید حوصله ولري او اسلامي امارت ته وخت ورکړي، څو ملي بودیجې ته په کتو او خصوصي سکتور سره په همغږۍ ګام په ګام په هېواد کې د ابادۍ کارونه پرمخ یوسي. ځینو ولایتونو کې چې ځینې پروژې پاتې دي، هدف دا نه دی چې اسلامي امارت یې پېلول او سرته رسول نه غواړي، بلکې اوسنیو امکاناتو ته په کتو ګامونه اخیستل کېږي او سوکه سوکه به د یوې پروژې له بشپړېدو وروسته بله پیلېږي.

☜ **درېیم:** ځینو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د اوبو بندونو غوښتنه کړې. د هېوادوالو غوښتنه پر ځای ده. ځکه افغانستان ډېرې اوبه لري، چې په تېر کې ترې سالمه استفاده نه ده شوې او د افغانستان اسلامي امارت دې چارې ته متوجه دی او غواړي چې له خپلو اوبو د برېښنا د تولید او کرنې د پراختیا له پاره استفاده وکړي. تاسو وینئ چې په ځینو ولایتونو کې ځینې بندونه ګټې اخیستنې ته وسپارل شول او د ځینو د جوړولو چارې روانې دي.

## پایله

د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري په مختلفو ولایتونو کې د ۱۱ پروژو منظوري ښیي چې د افغانستان اسلامي امارت د ټول هېواد متوازن انکشاف ته ژمن دی او هڅه کوي چې ټول هېواد کې د بیارغونې او ابادۍ چارې پرمخ ولاړې شي. هېوادوالو د دغو پروژو منظوري مثبت ګام بللی او هیله یې ښودلې چې د هېواد په نورو ولایتونو کې هم ورته پروژې پېل شي. اسلامي امارت غواړي چې ټول افغانستان پرمختګ وکړي، خو خپلو امکاناتو او کورنۍ بودیجې ته په کتو ګامونه پورته کوي او ورو ورو به نورې پروژې هم منظورې او چارې به یې پېل شي.

# کابل او تهران د درملو او طبي وسایلو د تولید په برخه کې همکارۍ پراخوي



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت د خپلې اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ غواړي چې د سیمې او نړۍ له ټولو هېوادونو سره ښې اقتصادي اړیکې جوړې کړي. ایران چې د افغانستان ګاونډی دی او ډېره راشه درشه ورسره لرو، نو اقتصادي اړیکې او همکاري پراخول ورسره د افغانستان په ګټه دي.

په همدې موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د قوس میاشتې په ۱۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ایران د روغتیا وزارت مرستیال او د خوړو او درملو ادارې له رییس مهدي پیر صالحي او په افغانستان کې د ایران له سفیر علي رضا بیکدلي سره ولیدل.

د لیدنې پرمهال د ایران د روغتیا وزارت مرستیال وویل، ایران چمتو دی چې له افغانستان سره د درملو او طبي وسایلو د تولید او افغانستان ته یې د صادراتو د زیاتوالي په برخه کې خپلې همکارۍ د اوږدمهال لپاره پراخې کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ایراني لوري مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ، چې په یادو برخو کې به د افغانستان اسلامي امارت اړوندې ادارې ورسره پوره همکاري او ګډ کار وکړي.


## له ایران سره د درملو او طبي وسایلو د تولید په برخه کې د همکارۍ پراخوالي موخه:

د اقتصادي همکاریو پراختیا

## په امارتي او خصوصي رسنیو کې د نظرونو او وړاندیزونو ټولګه:

هېوادوالو په امارتي او خصوصي رسنیو کې د (له ایران سره د درملو او طبي وسایلو د تولید په برخه کې د همکارۍ پراخوالي) نشر شوي خبر په اړه خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړي دي، چې په ټوله کې ۲۲٦ مثبت نظرونه، ۳۷ منفي نظرونه او ۱۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۲٪ مثبت نظرونه، ۱۳٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

### امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز او تحليل يې په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، څکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- له پاکستان پرته له نورې نړۍ سره راکړه ورکړه د افغانانو په ګټه ده.
- دا ډېر ښه فرصت دی. له پاکستان پرته بايد له ټولو ګاونډيو سره سوداګري ولرو.
- د عامې روغتيا وزارت دې ډاکټرانو ته هدايت وکړي، چې نسخې کمپيوټري کړي.
- د هېواد داخل کې دې روغتيا سکټور ته ډېره توجه وشي.
- په هېواد کې دې د درملو جوړولو فابريکې جوړې شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

- **لومړی:** اکثريت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې له پاکستان سره د سوداګرۍ په اړه د افغانستان اسلامي امارت وروستی دريځ ستايلی دی. اسلامي امارت له پاکستانه د درملو واردوونکو سوداګرو ته درې مياشتې وخت ورکړی و، چې خپل حسابونه تصفيه کړي، چې د دې مياشتو له تېرېدو وروسته به هېڅ سوداګر ته اجازه ورنه کړي چې د پاکستان درمل افغانستان ته وارد کړي. دغه راز، د لارو خلاصولو اجازه نه ورکوي او وايي چې پاکستان بايد قوي تضمينونه ورکړي. هېوادوال چې د پاکستان له ناسم چلنده ستړي شوي او ډېر زيانونه يې ليدلي، پوهېږي چې اسلامي امارت د پاکستان ناسمې پاليسۍ ته مثبت او مناسب ځواب ورکړی دی. هېوادوالو له پاکستان سره د هر ډول سوداګرۍ او راکړې ورکړې د بنديز غوښتنه کړې ده. د دې په ځواب کې بايد ووايو چې له ګاونډي سره تل دښمني نه کېږي، بلکې د ګاونډي ناسمو کړنو ته بايد مناسب ځواب ورکړل شي او هغه متوجه شي، څو له خپلو ناسمو او دښمنانه پاليسيو لاس واخلي او راتلونکي داسې ګامونه پورته نه کړي، چې خپل ګاونډي ته زيان ورسوي. اسلامي امارت هم له پاکستان سره د لارو تړلو او بيا د لارو خلاصولو له پاره شرط ايښی دی او لامل يې دا دی چې پاکستان بيا داسې ونه کړي، چې په يوه او بله بهانه لارې وتړي او له لارو د سياسي فشار د وسيلې په توګه استفاده وکړي.
- **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو نظرياتو کې له عامې روغتيا وزارت څخه د اصلاحاتو غوښتنه کړې او ويلي يې دي چې د ډاکټرانو نسخې دې له قلمي کمپيوټري ته واړوي. د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه د هدايت پر بنسټ دغه کار پيل شوی دی او په تدريجي ډول پلی کېږي. ريښتيا هم په قلمي نسخو کې فساد کېده، څکه يو ډاکټر به داسې

نسخه ليکله چې له يوه درمل پلورونکي پرته به بل څوک وربانديې نه پوهېدل او درمل اخيستونکی اړ کېده، چې يوازې هماغه ځای درمل واخلي. دا بيا د دې لامل کېده چې قيمتونه هم فرق ولري. په هر حال! اسلامي امارت دغې چارې ته متوجه شو او د کمپيوټري نسخو د پېل له لارې غواړي چې د هېوادوالو دغه ستونزه حل کړي.

⦿ **دريېم:** ځينو تبصره کوونکو په خپلو څرگندونو کې په هېواد کې د درملو فابريکو د جوړولو غوښتنه کړې ده. د دې هېوادوالو په ځواب کې بايد ووايو، چې الحمد لله! اوس په هېواد کې د درمل جوړولو لسگونه فابريکې فعالې دي او لسگونه ډوله درمل جوړوي، چې دې کار په هېواد کې د درملو د وارداتو کچه تر يوه بريده راکمه کړې او ځان بسياينې ته رسېدلي يوو، خو په دې برخه کې لا هم ډېر کار ته اړتيا شته. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي، چې په دې برخه کې کورنۍ او بهرنۍ پانگونه جذب کړي. په دې اړه امارتي مسوولينو د ځينو هېوادونو د درمل توليدونکو سره خبرې کړي او هيله کېږي چې په نږدې راتلونکي کې به په هېواد کې د درمل جوړولو د ډېرو فابريکو شاهدان واوسو. اسلامي امارت له ټولو کورنيو او بهرنيو پانگوالو غواړي چې په افغانستان کې د پانگونې له راغلي فرصته استفاده وکړي او د روغتيا، درملو، صنعت او نورو سکټورونو کې پانگونه وکړي. اسلامي امارت پانگوالو او سوداگرو ته ډېر امتيازات هم منلي دي.

## پايله

ايران د افغانستان مهم گاونډی دی، چې افغانستان ورسره ډېرې اقتصادي اړيکې لري او د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې په مختلفو سکټورونو کې دغه اړيکې پراختيا پيداکړي. د طب او درملو سکټور هم مهم سکټور دی او اسلامي امارت غواړي چې په دې سکټور کې هم له ايران سره همکاري او اړيکې ولري.

د هېوادوالو له تبصرو ښکاري چې دوی د اسلامي امارت له وروستيو اقتصادي پاليسيو ملاتړ کوي او د پاکستان په اړه د اسلامي امارت دريځ ستايي.

Deputy PM for Economic Affairs Office

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

dpmea.gov.af @FDPM_AFG fdpm_afg